سراج الحق ببرک زی ځدراڼ ۲۰۱۶/۱۱/۰۲

# د شربت ګلي پاکه معصومه څېره د افغانانو د کډوالۍ یو تر ټولو ستر عالي سیمبول دی

شربت ګله پر نړیوال کچ د افغانانو د جنګ ځپړو ویاړونو، میرانو او د کډوالۍ کړاونو ملي سیمبول ګرځېدلې ده. د شربت ګلي سترې، رڼې، تېزې، ښکلې زرغونې(شنې) ځلیدونکي سترګې نه یوازې د افغانستان او پخواني شوروي اتحاد په وړاندې د خپلواکۍ جګړې د ویرنو او خونړیو ناورینو یوه نښه ده، بلکې هممهاله د هغې سترګې د افغانانو میرانې، ویاړونه، غرور، شان شوکت، شهامت او مقاومت نړیوالو ته منعکسوي او ورسره د افغان کډوالو ناوړه او دردونکې حالت هم انځوروي. مظلومې شربت ګلې د خپلو سترګو په یوه تیز او جدي نظر کې ټولې نړۍ ته حیرانونکې ټکان ورکړی دی. شربت ګله د خپل ځو مانیزه انځور له امله د افغانستان د کډوالۍ په تاریخ کې او د کډوالۍ د خوځښتونو په اوږده بهیر کې د یوې پیاوړې ارادې خاونده نجلۍ ده، ځان لکه د افغان د میوند جګړې ملي اتله ملالۍ پشان راښکاره کوي. له همدې امله د شربت ګلي بي بي عکس په نړۍ کې خورا ډېر مشهور شوی دی او په نړۍ کې د افغان کډوالو د یو ریښتني حالت ښکارندویي کوي.

په ۱۹۸۵ کال د شربت ګلي له اسرارو او رازنو ډک عکس په ټوله نړۍ کې د نړیوالو خوښ شو. دغه انځور په نړۍ کې ترننه د بشریت په وړاندې د سترو نښښوونکو جنایتونو، ناورینونو او ظلمونو یو سپیځلي سیمبول پېژندل شوی دی. دغه عکس له همدې مهاله نه یوازې د افغان کډوالو د برخلیک یو سیمبول ګرځېدلی دی، بلکې دغه عکس د خپل ارزښت له کبله او د دوه ګوني اغیز او مانا لرلو امله یوه د هغې څېرې ده او بله د هغې د کالیو رنګونه دي، چې په نړۍ کې د افغانستان د جګړې،، مونالیزا،، په نامه مشهور او پېژندل شوی دی.

شربت ګله شېږ کلنه وه، چې په بشپړه توګه یتیمه شوه. د شورویانو په رنډو هوایي بمباریو کې د هغې مور او پلار شهیدان کړل شول.کور او کلي ورته وران کړل شول. شربت ګله د خپلو خویندو، ورونو او نیا سره په پښو د ځګو ځګو غرونو او ښکلي درو له لارې د پېښور ناصرباغ د کډوالو پنډغاړي ته د یوې تښتېدلې او ویریدلې ماشومې په څېر را کډه شوې ده. په ۱۹۸۴ کال کې د شربت ګلي د ماشومتوب یو جذابو انځور د نېشنل جیوګرافیک مجلې د یوه عکاس ستیف مېککري له خوا اخیستلی شوی دی. دا عکس د پېښور په ناصرباغ کې په نړیوال کچ د نوموتي عکاس خبریال ښاغلی ستیف مېککري لخوا اخیستلی شوی دی. شربت ګله د خپلو ښکلو زرغونو( شنو)سترګو، سور رنګه پوړنۍ او زرغون رنګه ښکلې کلیوالي کالیو سره د عکاسۍ کمرې ته مخامخ ګوري.په تصادفي ډول په دغه عکس کې په یوه شیبه یا یوه ثانیه کې ځو مهم اړخونه یا فکتورنه سره یو ځای کېږي او تیرینه یوځای عکس اخیستل کیږي. په عکس کې تر ټولو لومړی اړخ د یوې دولس کلنې معصومه ماشومې افغان نجلۍښکلې با جرأته تیز او جدي نظر دی.او دا نظر د افغانستان د جګړې یوه نښه ده. په عکس کې دویم اړخ د شربت ګلي د کالیو ښکلي رنګونه دي، چې د یو بل سره ډېر ښه لګیږي او یوې کلیوالي نجلۍ بې له دې چې د نړۍ له موډ او فیشن څخه خبره وي اغوستي دي او دریم مهم اړخ دا دی، دا ماشومه نجلۍ پرته له دې چې یوه خبرې د خولې څخه د خپلې کډوالۍ د کړاونو او د روسي وحشي بمباریو د ویرې په اړه وکړي، خپل حال او برخلیک د سترګو په رپ کې خلکو ته بیانوي. په ۱۹۸۵ کال د جون په میاشت کې دغه عکس د نېشنل جیوګرافیک مجلې د پښتۍ پر لومړي مخ کې د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

افغان نجلی په نامه چاپ شوي دی او له دې ورسته د شربت ګله عکس په ټوله نړۍ کې ښت ډیر نړیوال شهرت خپل کړي دی. د نېشنل جیوګرافیک مجلې په ۱۱۴ کلن تاریخ کې د مجلې دغه چاپې ګڼه تر ټولو ګڼو ډیره عالي او ډیره پلورل شوي ګڼه وه .دا طبعي خبره ده چې عکاس ورسره مشهور شوي دی او هم یې ترینه ډیره نقدي ګټه تر لاسه کړي ده.

د دولس کلنې ماشومې شربت ګلې په عکس کې په کمساري ډول د اظهارولو یا بیانولو یو ځانګړي پیاوړي پاک احساس ځواک لیدل کیږي له همدې امله پر دې عکس باندې په نړۍ کې د افغان د جګړې د مونالیزې په نامه نوم اېښودل شوي دی. دا یوه تصادفي پیښه وه، چې د دولس کلنې معصومې ماشومې په زړه پورې ځلیدونکې زرغونې سترګې او د هغې په زړه کې د جنګ جګړو خواشینونکې او ویره ونکې ترخې کیسې پټې ساتلې شوې دې پرته له دې چې یوه خبره تیرنه وکړي. کوشنې شربت ګله نړیوالو ته د خپل کړاونو حال بې اختیاره د خپلو سترګو په رپ کې بیانوي. دلته یو عکس د زروګونو کلمو ځای نیولي دی. دغه سترګې د افغانانو غمجن تاریخ بیانوي. دغه سترګې د سرې وجدان تعقیبوي. دغه سترګې هیله بښوونکې دې، چې د سبا ورځ به د نن ورځې ښخه بهتره وي،.له همدې امله د شربت ګلې دغه تصویر ته د عکاسۍ په نړیوال تاریخ کې نړیوال شهرت ور په برخه شوي دی. چا چې دا پاک او معصوم مخ یو ځلې په عکس کې لیدلي دی، هغه دا عکس بیا نه دی هیر کړي.

له دې امله په نړیوال کچ د شربت ګلې څېره د عکاسۍ په هنر کې په کرده نړۍ کې نوموتي او پیژندل شوي څېره ګرځیدلې ده. خواشینونکې خبره دا ده، چې هغه نږدې تر دیرشو کلونو پورې له خپل نړیوال شهرت او پیژنده نا خبره وه. عکاس او عکاسي شوي میرمن یوازې دوه ځلې له یو بل سره د عکاسۍ په موخه سره لیدلي دي. شربت ګله په ۱۹۹۲ کال افغانستان د تورې بورې یوې غرنې سیمې ته نږدې یوه کلي ته بیرته ستنه کیږي. هلته له واده ورسته د دریو ماشومانو مور کیږي. ډیر کلونه پته نه وه چې شربت ګله چیرې تللې ده. په ۲۰۰۲ کال کې هغه د نېشنل جیو ګرافیک خبریال عکاس له ډیر هڅو او لټون ښخه ورسته هغه په خپل کلي کې موندل کیږي. په ۲۰۰۱ کال ښاغلی ستیف مېککري د شربت ګلې ښخه بیا ځلې یو عکس اخلي او په ۲۰۰۲ کال د اپریل میاشت کې د نېشنل جیوګرافیک په مجله کې بیا چاپ کیږي او د شربت ګلې د لټون او پیژندنې بهیر د یو ټلویزیونې مستند فلم یا راپورتاژ له لارې د نړې په تلویزنونو کې خپریږي. د هغې زرغونو (شنو)سترګو لید اغیز او پرګه هماغسې د کوچنیوالې په څیر پاک، معصوم، هېښوونکې او تیانده وه او د هغې پر غمجن مخ د اوږدې جنګ جګړو غمیزو اغیز، د ژوند سرې او تودې او د ژوند د سختو شرایطواو کړاونو او بې وسیو نښې نښانې له ورایه برینښي. دا چې کله او څرنګه شربت ګله بیرته پیښور ته تللې ده، سمه پته نشته. ښایي شربت ګله بیا د جنګ جګړو د اور له ا مله پیښور ته کوچیدلې وي .

د لومړنیو راپورنو پر بنسټ په ۲۰۱۴ کال شربت ګله په خپل نامه پیښور کې د پاکستانی پیژند پاڼې درخواست کړې او پیژند پاڼې یې ترلاسه کړې. ده .وسمهال بې بې شربت ګله د جعلې پیژند پاڼې په تور نیولي شوې ده.

ورستې خبرونه دا دې چې میرمن شربت ګلې په محکمه کې د قاضي په وړاندې پرځان لګیدلې تورونه رد کړي دي او په اسلام اباد کې افغان سفیر وایې: چې شربت ګلې جعلې اسناد نه دي جوړ کړي، بلکې د پاکستان د حصایي مرکزې اداري تر ۵۰۰ زرو زیاد دا ډول کارتونه افغانانو ته جوړ کړي دي. افغان سفیر زیاتوي او وایې، چې پاکستانې پولیسو د نیولو پر مهال له شربت بې بې ښخه درې زره ډالر هم وړې دي .

د ملګرو ملتونو د کډوالو لویې کمیشنرۍ د شمیرو پر بنسټ اټکل یو عشاره پینځه میلیونه افغانان رسماً او اټکل یو اعشاره څلور میلیونه نور افغان کډوال ښایې بې اسناده په پاکستان کې واوسیږي. په ټوله نړۍ کې پر نړیوال کچ د افغانان د کډوالۍ حالت د کډوالۍ یو ستر نړیوال ناورین ګڼل کیږي.

د شربت ګلې ځلیدونکې او الهام ښونکې سترګې او د شربت ګلې اغېز شیندونکې سترګې، د شربت ګلې رخنه او سرایت کونکې سترګې هر با وجدانه او پوه انسان ته په سترګو کې د خپل له کړونو ډک ژوند کیسه وراوروي. شربت ګله په خپلو سترګو کې بې اختیاره د خپل کړیدلې ژوند او د افغان مظلوم ولس د کړاونو او ناوړو حالاتو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

کیسي حال ټول بشریت ته د سترګو په رپ کې وایي، بې له دې چې هغه یو ټکی د سترو بې عدالتیو او بدمرغیو په اړه ووایي. دا احساس په خپله د پښتنو د غیرت او میړانې، د شرم او حیا یو ګډ ارزښتمن احساس دی. همدا لامل دی چې دغې عکس ته په کرده نړی کې د ټولو با احساسه با وجدانه انسانانو پام ور اوښتي دی. او ټول نړیوال د شربت ګلې په سترګو کې د حال ویلو په راز او رمز پوهیدلي دي. د دغې پاکې معصومه نجلی زرغون رنګه تیزې سترګې او نورراني مخ د افغان ملکیانو د کړونو او د افغانانو او شورویانو ترمنځ جګړې او د افغان جنګیالیو د مقاومت یو سیمبول ګرځیدلی دی.
زرغون سترګې افغان نجلی د اتیایمو کلونوراهیسې د افغانستان جګړې او د ملکې وګړو د کړونو یوه ملي ځیره ده. وسمهال د افغانانو ملي سیمبول شربت ګله په پاکستان کې نیولې شوې ده.
د نیوني ورسته پوښتنه راولاړې شوې دي، چې په پاکستان کې د څو لسیزو راهیسې په لکونو افغان کډوال په غیر قانوني ډول اوسیږي، دوی پاکستاني پیژندپاڼي د پیسو ورکول په بدل کې هم اخیستی دي. په زرګونه افغانان د پاکستان په بندیخانو کې پرته له ثابت شوي تورنو ناست دي او له خپلو ټولوبنسټیزو انساني او اسلامي حقوقو او نړیوال منلي شویوقوانینو څخه بې برخې کړل شوي او په تورو بندیخانو کې خپلې شپې او ورځې تیروي. ولې پاکستاني چارواکي دغه ډله افغانان د شربت ګلې غوندې زر محکمې ته نه ودروي او همداراز ډیر نړیوال ترهګر په پاکستان آزاد ګرځي. دوی ولې په بې حرمتیو او بې عزتیو کې نه ځورول کیږي، نه نیول کیږي نه توهین کیږي او نه بندیان کیږي. اوس د پاکستان د بشري حقونو ضد سیاست یوه با عزته پاکه افغانه بې بې حاجي میرمن چې هغې ته الله تعالی په کوچینوالي کې یو نور، ذکاوت او شهرت ورکړي دی، نیولې ده او په ډیر سپین سترګې د نړیوالو قوانینو خلاف په بندیخونه کې ځوروي.
د اسلام اباد پوځي واکدارنو د افغانانو په وړاندې ځوارځیزه کرغړینه رواني چټله جګړه پیل کړې ده. د شربت ګلې د نیولو سره دوی غواړي لږ تر لږه دوه پیغامونه افغانانو او افغان دولت ته ورولیږي.
لومړي پیغام : دوی غواړي د شربت ګلې نیوني سره ټول افغان ولس ته او ټولو با احساسه، بې وسه پښتنو ته یو ستر پیغور ورکوي .د پنجاب شیطاني او روحاً ناروغه او مضرې کړې غواړي پښتانه په خپل پښتني احساس کې ونګوي او د پښتنو پر پښتني زخمي احساساتو باندې لوبې وکړي او له دې سره دوی د پښتنو په ننګ او غیرت کې ګوتې وهي او دوی زموږ دغه افغاني زوړ احساس نوره ژوبلوي. بې له شکه د بې بې شربت ګلې د نیول کیدو سره د ټولو افغانانو پښتني غیرت او احساس ژوبل کړل شوي دی.ځکه شربت ګله بې بې د افغان ولس د کډوالی یو سپیځلې درونډ سیمبول دی .
دویم پیغام دا دی: د اسلام اباد واکدارن پوهیږي، چې پر نړیوال کچ شربت ګله د افغان کډوالو پیژندل شوې ځیره او سیمبول دی. د افغانانو د کډوالی سیمبول نیوني سره دوی غواړي ووایي، چې افغانان نور د پاکستان په خاوره کې او د افغانستان د نیول شوي خاوري په دننه کې بې اسناده د اوسیدو حق او ځای نلري او له پاکستانه د افغان کډوالو د ستنیدلو لړي نوره چټکه او ګړندي کوي .پاکستان کې د افغان کډوالو بنوونځي تړل او د ډیورنډ پر کرښه دروازې درول یې نورې بیلګې دي، چې پر افغانانو او افغان دولت باندې د خپلې رواني جګړې د پالیسي په چوکاټ کې فشارونه زیاتوي.
د شربت ګلې د نیول کیدلو په تړاو په ملي او نړیوال کچ پراخ غبرګونه په ډلیزو رسنیو کې راپارولي دي او ټول د هغې د سملاسي خوشې کیدلو باندې ټینګار کوي.
لکه څنګه چې ټاکل شوې ده، که شربت ګله د محکمې په برائت سبا خوشی نشي، پښتانه افغانان مجبور دي د خپل افغانیت د اصولو په چوکاټ کې د شربت ګلې د خلاصون لپاره په کابل او پیښور کې په یوه ورځ ستر ستر سوله ییز لاریونونه راوباسي. یو افغان د ټولو پښتنو د پاره او ټول افغانان د یوې پښتني شاهزادګۍ لپاره باید سره متحد شي او را ووځئ.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ